# د پرنس ویلیم کاونټی عامه ښوونځیو د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام د نوم لیکنې پالیسي

د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځي (PWCS) په ټولو کچو، ابتدایۀ، منځني او عالي ښوونځيو کې ځانګړي پروګرامونه وړاندې کوي. د نړیوال بکلوریا (IB) پروګرام د ښوونځیو په ټولو کچو کې شتون لري او د دلچسپۍ پر اساس یو پروګرام دی.

PWCS د وړکتون څخه تر دولسم- پورې ټولګیو ته په بشپړ ډول د IB پروګرامونه وړاندې کوي:

- پنځه ابتدایۀ ښوونځي د وړکتون څخه تر پنځم ټولګي پورې د ماشومانو لپاره د IB ځانګړی پروګرامونه ( IB PYP) وړاندې کوي.
- څلور منځنی ښوونځي د شپږم څخه تر اتم ټولګي پورې د ماشومانو لپاره د IB ځانګړی پروګرامونه (IB MYP) وړاندې کوي.
- دوه عالي ښوونځی د نهم او لسم ټولګي زده کوونکو لپاره د IB ځانګړی پروګرامونه لري.
- دوه عالي ښوونځی د یوولسم او دولسم ټولګي زده کوونکو لپاره د IB ډیپلوم (IB DP) پروګرام وړاندې کوي او دوه نور د IB مسلک اړوند (IB CP) پروګرامونه وړاندې کوي.

هغه زده کوونکي چې د یو ښوونځي زون شوي ساحی څخه بهر اوسیږي، کولی شي په هغه ښوونځي کې د ګډون کولو غوښتنه وکړي چې IB پروګرام وړاندې کوي. زده کوونکي باید هر کال د ~~ParentVue~~ParentVUE له لارې د نومبر له لومړۍ نېټې څخه د فبرورۍ تر لومړۍ نېټې پورې، په ټاکل شوي وخت کې  په آنلاین ډول غوښتنه وکړي. نیمګړي غوښتنلیکونه یا هغه چې له ټاکل شوې نېټې وروسته سپارل کیږي، د منلو لپاره به په پام کې ونه نیول شي.

بل ښوونځي ته تبادله کونه یو امتیاز ګڼل کیږي. زده کوونکی باید د پروګرام ټول شرایط پوره کړی. د "چلند قانون"، د زیاتو غیر حاضریو، یا له وخت مخکی له ښوونځی څخه د غیر عضر شوي تګ، یا د ناوخته راتلولو، یا د ځانګړې فرصت پروګرام د شرایطو سره په مطابقت عمل کولو کې د پاتې راتللو له امله د هر ډول جدي سرغړونې لپاره لیږدونه یا تبادله ممکن د روان کال لپاره بیرته فسخه شي یا د راتلوونکی کال لپاره رد شي.  هغه تبادله کوونکی زده کوونکي چې په اطاعت کولو کې پاتې راشي، ممکن بیرته خپلو اصلي ښوونځي ته واستول شي، کله چی د ایستلو پروسه بشپړه شي.

## د ابتدایۀ ~~کلونو~~ ~~ښوونځیو/کلونو~~ پروګرام او د منځنۍ ښوونځیو/کلونو پروګرام

پرنس ویلیم کاونټی ښوونځی هر  هغه زده کوونکی د IB پروګرام زده کوونکی ګڼي چې په IB ښوونځی کې شامل شوی وی. دا پام کی نیولو پرته چې زده کوونکی د تبادله کوونکی زده کوونکو په توګه ګډون کوي یا په ښوونځي کی د ګډون کولو لپاره زون شوي وي، د IB پروګرام ټولې برخې ټولو زده کوونکو ته د لاسرسي وړ دي. ټولګی په داسې شکل جوړ شوی چې د زده کوونکو اړتیاوې پوره کړی.

**زون شوي زده کوونکي:** ټول هغه زده کوونکي چې د PWCS IB ابتدایۀ یا منځني ښوونځي کې ګډون کوي او چی د حاضری په ساحه کې ژوند کوي، د IB زده کوونکي ګڼل کیږي او په بشپړ ډول په IB پروګرام کې ګډون کوي.

**تبادله کوونکی زده کوونکي:** تبادله کوونکی زده کوونکي باید په کلنی توګه ټاکلی شوې موده کې دننه او د آنلاین غوښتنلیک پورټل له لارې غوښتنلیک وړاندی کړي. تبادله کوونکی زده کوونکي باید د حاضری، کاري عادتونو او د منلو وړ چلند په برخو کی د پروګرام شرائط پوره کړي. ښوونځی ممکن د منل کیدو لپاره د تبادله کوونکی زده کوونکي په شمیر باندی محدودیت ولری. په نوم لیکنې باندی محدودیت د بدلیدو وړ دی او د نوم لیکنې او د زون بندي پر بنسټ دی.

Formatted: Left-to-right

## د ډیپلوم پروګرام او کیرئیر پروګرام

پرنس ویلیم کاونټي ښوونځی په دې باور لري چې ټول زده‌کوونکي خپل تر ټولو لوړ ظرفیت ته ځان رسولو لپاره د فرصت تر لاسه کولو مستحق دي. د پرمختللي اکاډمیکي او ځانګړي پروګرامونو موخه دا ده چې ټولو زده کوونکو ته د زده کړې لپاره داسې چاپیریال برابر کړي چې ننګونکی، ښکیل کوونکی او د هغوي انفرادي اکاډمیکي اړتیاوې پوره کړي. دا چې په پورته ذکر شویو د ښوونځی کچو کورسونو کې IBDP او IBMYP د ښووني او روزني لپاره کاری چوکاټونه دي، - زده کوونکي هڅول کیږي چې ترټولو سخت درسی مهالویش غوره کړي چې د هغوي GPA (د نمرو اوسط) ورڅخه ملاتړ وکولی شي. ښوونځي د زده کوونکو شاملولو په لټه کې دي، نه د ایسټلو، نو خوښي او لیوالتیا د سفر پیل کولو لپاره کافي دي.

**زون شوي زده کوونکي:** ټول هغه زده کوونکي چې په منل شویو PWCS IB عالي ښوونځی کې ګډون کوي او چې د حاضری په ساحه کې ژوند کوي، د IB زده کوونکي ګڼل کیږي او په بشپړ ډول د IB پروګرامونو په ټولو کچو کی ګډون کولو ته لاسرسی لري.

**تبادله کوونکی زده کوونکي:** تبادله کوونکی زده کوونکي باید په کلنی توګه ټاکلي شوي موده کې دننه او د آنلاین غوښتنلیک پورټل له لارې غوښتنلیک وړاندې کړي. ښوونځی ممکن د منل کیدو لپاره د تبادله کوونکی زده کوونکي په شمیر باندې محدودیت ولری. په نوم لیکنې باندې محدودیت د بدلیدو وړ دی او د نوم لیکنې او زون بندې پر بنسټ دی. د تبادله کوونکی زده کوونکي په توګه منل کیدنه ممکن د زیاتی غیرحاضری، له وخت مخکی له ښوونځی څخه د غیر عضر شوي تګ یا ناوخته راتللو، یا نورو اکاډمیکی حالاتو له امله اغیزمن شي کوم چې د دې لامل کیږي چې یو زده کوونکی په وخت سره د فارغیدو لارې څخه پاتې کړئ.

[د PWCS مقرره 630-2 ، "د ځانګړو فرصتونو پروګرامونه"]

[د PWCS تخصصي پروګرامونه]

په وروستی ځل د کتل کیدو نیټه مئ 2025

Formatted: Left-to-right